# په ګاونډ هېواد کې

# زړه بايلل



ليکوال : داکتر معمار حشمت الله  اتمر

پېخليک: غبرګولی / کال  ۱۴۰۷لېږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاوند هېواد کې زړه بایلل

..................................

**لیکي پوهه:**

**سرلیک: په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل**

**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډېټور:**
**د پخښتی دیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۳۰
**چاپ نېټه:** غبرګولی / کال ۱۴۰۷
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک

سرليک چوپړی

پخښتی........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحيم ................................................... ۲
ليکي پوهه:................................................................ ۳
لړليک ........................................................................ ٤
تراڼ (پيل، شروع، بريد)..................................................... ٥
د يادښتونو له پاره:............................................................ ۷
کيسه، داستان يا ناول: ........................................................ ۸
د چاپ شويو کتابونو ليست.................................................. ٦٥
د کار لاندې کتابونو ليست ................................................... ۷۰
د وخت او امکان په صورت کې................................................ ۷۱
د پخښتی ځټ ................................................................ ۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

.................................

**تراڼ (پیل، شروع، برید)**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیداېښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل داستان (ناول، کیسه) چې به غور ولایت کې تېره شوی او بیا مشهد ښار (ایران) هېواد ته غزېدلی او تر اوسه هم د غورپه ولایت کې روانه ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.
زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، او نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پېژنو.
زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

**د يادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ......................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

..................................

**کیسه، داستان یا ناول:**

جواد پوره ۳۲ (دو دېرش) کاله د مخه د غور ولایت په یوې لرې او بې زده کړې کورنی کې، دې نړۍ ته سترګې خلاصې کړې (و غوړوې).

هغه ورونه نه درلودل، یوازې دوې خویندې یې لرې (لرلې) او هغه د کورنی منځنی اولاد و.

البته ښوونځي وو(ول) خو په یوې لرې سیمې کې یې شتون درلود.

د هغه له پاره تګ او راتګ خورا ستوزمن و.

د هغوی د شاو اخوا سیمې نورو الکانو او انجونو هم د ښوو نځي سره مینه نه درلوده.

په هېواد کې د لرو پرتو سیمو اوسېدونکی تل د زده کړو(سواد) څخه بې برخې پاتې کېږي.

د جواد پلار په ځمکو کار کاوه او ډېر زبردست بزګر(کروندګر) و.

هغه به خپل زوی د ځمکو کار ته هڅاوه او غوښتل یې چې هغه هم د هغه په شان تکړه بزګر شي.

هغه ورو، ورو لوېده.

د هغه مینه د ځمکو کښت سره نه وه.

ښوونځی هم لرې و.

هغه به وختي له خوبه پاڅېده او د کور نه به د باندې وته (واته).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

..................................

د باندې به يې د خپلو همزولو سره لوبې کوې.

کله به يې سه ريکک، کله به يې خسته بازي او يا توپ زني کوه.

په لوبو کې هغه تر ټولو د مخه وه.

په سيمې کې کاروبار هم ډېر لږ و.

د کلي ځوانان به د کار له پاره ايران هېواد ته تلل.

البته به يې پيسې غونډوې او د خپلو کورنيو سره به يې مرستې هم کوې.

څه پيسې به يې ځان د پاره غونډوې تر څو پرې خپل هېواد کې کارو بار جوړ کړي.

چا به د دې له پاره کار کاوه چې پيسې غونډي کړی او هېواد کې کور جوړکړي، موټر واخلي يا پرې کوژده او واده وکړي.

وختونه، تېرېدل او هغه لوېده.

هغه او د هغه همزولي په ځوانی پښې کېښودې.

هغه سره هم د ايران د تګ مينه پيدا شوه.

ځوانانو کوم چې له غور ولايت نه ايران ته تللي وو د تنکيو ځوانانو په ناستو کې به يې کيسې کوې او هغوی ته به يې د تګ، راتګ ،کار ، پيسو ګټلو کيسې کوې.

هغوی به هره ورځ پاک ګرځېدل او پر پيسو به يې خوراکي شيان، ښناک او انرژئ اخيستې کومې چې د تنکيو ځوانانو له پاره اخيستنه يې خورا ګرانه او ستونزمنه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

تنکيو ځوانانو به هغوی ته کتې، خو نه يې شو کولای چې د هغوی په شان ښناک او انرژۍ واخلي.

ځکه چې نه هغوی کومه ګټه درلوده او نه د هغو کورنۍ دومره ګټې درلودې چې خپلو ماشومانو ته دومره پيسې ورکړي په بازار کې پرې ښناک او انرژی واخلي.

تنکيو ځوانانو به صبر کاوه او تول په دې سوچ کېده چې هغوی هم د هېواد څخه د کار کولو او پيسو موندلو له پاره، ګاونډ هېواد ته لاړ شي.

د غور ولايت څخه ګاونډ هېواد ته، تګ او راتګ خورا ډېر و.

داسې ښکارېده چې کوم ځوک د غور ولايت له يوې ولسوالۍ نه، بلې ولسوالۍ ته سفر وکړي.

څه وخت نور هم تېر شو.

جواد ځوارلس کلن شو.
د هغه همزلي ډېری د کار کولو د پاره ايران ته لاړل.

جواد د کار کولو د پاره کوشنې و.

يوه ورځ هغه په لوبو بوخت و.

يوه ملګرې يې راغی او هغه ته يې و ويل:

جواد جانه!

زه پلان لرم د خپل تره زوی سره سبا وختی ايران ته لاړ شم.

التـه به کار وکړم او پيسې به وګټم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

له يوې خوا به خپلې کورنۍ سره مرسته وکړم او له بلې خوا کار او کسب به زده کړم.

پيسې به ټولې او په خپل هېواد کې به پرې هټۍ جوړه کړم.

د ښوونځي خو و نه شوو.

کسب او کار خو به ياد کړو.

هغه جواد ته و ويل:

ته څه کوې؟

هغه و ويل:

زه کوم پلان نه لرم.

بيا يې هغه ته و ويل:

که غواړې زمونږ سره به يوه ځاى لاړ شې.

زما د تره زوى، الته بلد دى.
هغه په يوې فابريکې کې، کار کوي.

هغه به زمونږ له پاره هم کار و مومي.

جواد و ويل:

سمه ده!

زه د خپلې کورنۍ سره د شپې خبرې وکړم بيا سبا به تاسو ته د تګ او نه تګ خبر درکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

..................................

مازيګر بيا ما بنام شو.

جواد کور ته لاړ.

د سفر په هکله يې خپلې مور ته و ويل.

مور يې و ويل:

زه د ستا تګ سره يوه (موافقه) نه يم.

ته زمونږ يواځينی زوی يې .

مونږ بل زوی نه لرو.

لارې ستونزمنې دي.

خطرې هم ډېرې دي.

په لاره کې ځوانان لوټ کيږي، تيپي کيږي، وژل کيږي.

څه کسان له تندې او سړو مري.

هيڅوک ور سره مرستې نه کوي.

خلک په کاچاکي (قاچاقي) لارو ځي.

کاچاکبر (قاچاقبر) هم ښه خلک نه دي.

د خلکو نه پيسې شکوي او ځينې وختونه خلک د پوليس منګلو ته ورکوي.

پر هيڅا هم اعتبار نه شته.

ملګري هم د اعتبار وړ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................

وختونه بدل شوي دي.

پر ورور هم اعتبار نه شته.

زوی يې دېر و ويل خو د مور زړه يې نه وه.

هغې و ويل:

سمه ده!

دلته کارو بار نه شته.

يوه مړی ډوډی پيدا کېږی.

په ګډه به يې وخورو.

هغه و ويل:

رښتيا وايې!

خو زما زړه دلته ډېر په تنګ شوی دی.

خلک ايران ته ځي.

الته کار او مزدوری کوي.

پيسې ټولوي.

بيا بېرته، هېواد ته راځي.

دلته ښه خوري او ښه اغوندي.

مور يې و ويل:

خدای مهربانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

.................................

ته هم د خپل پلار سره په کروندو کې کار وکړه.

تاسو ډېرې څمکې په اجاره ونيسئ.

حاصلات به ډېر شي.

هغه به په بازارونو کې و پلورې، پيسې به غونډې کړئ.

کور به لږ ښه جوړ کړو.

ستا د پاره به يوه بله او ځانته خونه جوړه کړو.

هغه به ستا خونه وي.

څوک به د ستا سره هيڅ کار نه لري.

هغه و ويل:

خونې ټولې يوه شان دي.

خلو ديوالونه، يوه کړکۍ او يوه دروازه لري.

په غولي کې نيمڅې او پوزي اوار دي.

د خلکو کورونه وګورئ.

خلک غالۍ لري.

په کورونو کې يې ټلويزونونه شتون لري.

اوس خلک د ټيپ او راډيو خبرې نه کوي.

مونږ خو، راډيو هم نه لرو.

غوږکۍ (ټيلفون) لا پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

مور يې و ويل:

تر اوسه ستا پلار هم غوږکی نه لري.

ستا پلار و ويل:

د دې فصل حاصل خرڅوني نه وروسته به، څه پيسې بېلې کړو او پر هغه به غوږکی واخلو.

جواد و ويل:

اوس خلک غټ غوږکي کاروي.

د هغو بيې ډېرې لوړې دي.

هغو ته ډېرې پيسې په کار دي.

مونږ د هغو وس نه لرو.

په پوښتنو او ځواب ورکولو سره، مور يې ستړې شوه.

هغې و ويل:

زه خو نه غواړم چې ته بل هېواد ته د کار له پاره لاړ شې.

اوس به دې پلار راشي.

ته د هغه سره خبرې وکړه.

په دې وخت کې پلار يې انګړ ته د ننه شو.

د هغه سره غوا او پسه هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

.................................

تر شا يې د وابنو پنډ و، کوم چې يې د مالونو(غوا، خوسی او پسه) د پاره يې راوړي و، تر څو چې د هغوي د شپې خوراک شي.

هغه پنډ پر ځمکه کښېښود.

غوا او پسه يې غوجلي ته، د ننه کړل.

الته يې پر مېوګيو و تړل.

بيا بېرته را و وت او د وابنو پنډ يې غوجلې ته، د ننه کړ.

الته يې د غوجلي په آخور کې وشينده.

مالونو په خوړو پيل کړ.

هغه د غوجلې نه را و وت او د غوجلې دروازه يې بنده کړه.

غولي کي ودرېد.

آسمان ته يې و کتل.

آسمان شين و.

کوم، کوم ستوري بنکارېدل.

نوي مابنام پيل شوی و.

اوا لړ روبنانه وه.

بيا هغه کوټې ته د ننه شو.

بنځه يې ودرېده او هغه ته يې سلام واچو.

هغه هم د بنځې سلام ته وعليکم و ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې ژړه بایلل

..................................

جواد هم د ځایه پاڅېد او خپل پلار ته یې سلام ورکړ.

پلار یې د هغه سلام ته هم ځواب ورکړ.

بیا پر توشکې کښېناست.

بالښت یې تر دډې لاندې کړ.

بیا یې جواد ته و ویل:

نن ډېر ستړی شوی یم.

کارونه ډېر وو.

او(هوا) هم توده وه.

ښځه یې له ځایه پاڅېده او هغه ته یې و ویل:

دستې به درته تود چای دم او راوړم.

اوبه مې پخوا اېشولې دي.

چای مې دم نه کړ تر څو سوړ نه شي.

سوړ چای هسې ستا هم نه خوښېږي.

مېړه یې و ویل:

خیر یوسې.

لږ ژر ه کوه.

نن ډېر ستړی شوی یم.

ښځه یې له کوټې و وته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

..................................

هغه چابکه د تناره کوټې ته د ننه شوه.

لږ خس يې د چايجوش لاندې کړل.

اوبه جوش شوې.

په بل چايجوش کې يې شين چاى واچوه او بيا يې د لوى چايجوش نه اوبه په کوشني چايجوش کې تويې کړې.

بيا يې اورلږونى راواخيست.

له نغري يې څه سکروټې و وېستې.

چايجوش يې پرې کښېښود.

چاى ښه دم و نيو.

بيا يې د پلو په ژى چايجوش و نيو او کوټې خوا ته روانه شوه.

کوټې ته د ننه شوه.

چايجوش يې د خپل مېړه تر څنګ کښېښود.

المارى ته نږدې شوه.

يوه پياله يې را واخيسته او د چايجو څنګ ته يې کښېښوده.

بيا يې په هغې کې چاى واچوه.

هغه يې خپل مېړه ته نږدې کړه.

لږ کنډ (قند) يې له المارى نه راواخيست او د مېړه پيالي تر خوا يې کښېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

مېږه يې پر چاى ښبنلو پيل کړ.

څو پيالې يې په خوند سره و ښبنې.

بيا ښځه يې تناره خونې (کوټې) ته لاړه او کتغ يې پر سکروټو کښېښود او تود يې کړ.

بيا يې تاخچې ته و کتل.

الکين يې د تاخچې نه کوز او روښانه کړ.

هغې کتغ په غابونو کې و وېشه.

په لاس کې يې دوې غابه و نيول او په بل لاس کې يې الکين نيولى و.

لمړى انګړ بيا کوټې ته د ننه شوه.

لور ته يې و ويل:

د لاس اوبه راواخله او اوبه واچوه.

مشرې لور يې په اوبو اچونې پيل کړ.

لمړي يې خپل پلار او بيا يې مشر ورور ته اوبه وړاندې کړې.

بلې لور يې دسترخوان اوار کړ.

ډوډۍ يې له ټکرۍ (ټوکرۍ) واخيسته او پر دستر خوان يې کښېښوده.

بيا مور يې د کتغ غابونه هم پر دسترخوان کښېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

................................

الکین یې هم د دسترخوان په منځ او یوې پایې پر سر کومه چې د الکین د پاره جوړه شوې او تقریباً ۲۰ (شل) سانتئ له ځمکې نه اوچته وه، کښېښود.

دا پایې په پخوا پېر کې شتون درلود او د الکین د کارونې له پاره د نازکو اوسپنو پټلیو نه جوړې شوې کومې چې تور یا شین رنګ درلودونکې وې.

د الکین رڼا د یوې کوټې له پار نه بسېده، خو د مجبوریت ژوند و.

نه د نن په شان ښارې او یا لمریزه برېښنا وه، مګر ټول خوشحاله وو، یوه به د بل پوښتنه کوه، مینه او محبت و، عزت او قناعت و.

ډوډۍ وخوړل شوه.

تود چای هم ورسېد.

ټولو په چای څښلو پیل کړ.

خبرې اترې هم پیل شوې.

په خبرو خبرو کې د جواد مور و ویل:

جواد دلته هېواد کې په تنګ شوی.

نه ښوونځی شته او نه کومه مدرسه.

هغه د ځمکو کرلو سره مینه نه لري.

اخوا دېخوا ورځ تېروی.

مهمه خبره دا ده چې هغه اراده لري د کار کولو په خاطر ګاونډ هېواد ایران ته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

پلار يې و پوښتل:

جواده!

مور دې څه وايي؟

هغه و ويل:

مور مې رښتيا وايي.

زه غواړم د کلي الکانو سره يوه ځای ګاونډ هېواد ته لاړ شم.

التـه څه کار وکړم.

پيسې غونډې کړم.

دلته به د ځان له پاره ښه ژوند جوړ کړو.

پلار يې و ويل:

ګاونډ هېواد ته تګ آسانه کار نه دی.

تګ د قاچاقبر په لاس کې دی.

هغه بې له پيسو د چا کار نه کوي.

لارې هم ستونزمنې دي.

خلک وژل کيږي.

تل دا سې را پورونه راځي چې په لاره کې څلور ځوانان د ګاونډ هېواد د عسکرو په ډزو کې ټپي او يا و وژل شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

خپل او خپلوان د هغو مړي ښېرته هېواد ته راوړل او په هديرو کې يې ښخ کړل.

د ټپيانو درملنه هم آسانه کار نه دی.

ښه روغتون او پيسو ته اړتيا شته.

په د ې وخت کې جواد و ويل:

ته رښتيا وايې!

د کلي الکان موټر سيکل لري، اخوا دېخوا ګرځي.

د هر يوه په جب کې غوږکي دي.

په کورونو کې لمريزه برېښنا لري.

ټلوېزونونه لري.

پلار يې و ويل:

ته رښتيا وايې.

زه يواځې په کروندو کې کار کوم.

د يوه کس ګټه به هم دومره وي.

زه غواړم چې ته هم زما سره کار وکړې.

د دوو کسانو ګټه به خامخا ډېره وي.

مونږ به پيسې زېرمه کړو.

غوږکي به پرې واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................

ورو، ورو به لمريزه برېښنا هم فعاله کړو.

ژوند په اميد خوږل شوی دی.

خدای مهربانه دی.

جواد و ويل:

بې له شکه چې خدای مهربانه دی.

په کروندو کې کار کول آسانه نه دی.

ټوله ورځ د لمر وړانګو لاندې کار دی.

زه په کروندو کې د کار کولو حوصله نه لرم.

پلار يې و ويل:

ما کوښښ وکړ چې پر تا او خويندو دې، ښوونځی و وايم.

خو!

نږدې ښوونځی شتون نه لري.

د لرې ښوونځي تګ ته موټر سايکل په کار دي چې تاسو د هغه په مرستې ورسوي او بېرته راوړي.

زه په خپله موټر سيکل نه لرم او نه يې هم، زغلولی شم.

که کوم زوړ موټر سيکل په پور واخلم د تېلو پيسې به يې له کومه کړو.

ستونزې خورا ډېرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه ګاونډ هېواد کـې زږه بایلل

................................

ژوند ورو، ورو ښه کيږی.

باید سړی ډېر کار وکړي تر څو پیسې زېرمه او خپل ژوند پرې جوړ کړي.

په هر کار کې حوصله په کار ده.

زوی یې و ویل:

ته ربښتیا وایې پلاره!

خو!

پلار یې و ویل:

خو یانې څه؟

هغه و ویل:

ما د کلي الکانو سره د تګ هوکړه کړې ده.

هغوی سهار وختی ځي.

زه هم د هغوی سره ځم.

پلار یې هر څه هغه ته و ویل، خو هغه و نه منل.

بیا پلار یې خپلې ښځې ته و ویل:

د الک د تګ له پاره پیسې هم په کار دي.

ته کومه غوټه موټه لرې که نه؟

هغه له ځایه پاځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

.................................

بلې کوټې ته د ننه شوه.

د کليو غوټه يې د جبه راوويسته او اوسپنيز بکس ته نږدې شوه.

د کلپ (قلف، قفل) په خلاصونه يې پيل کړ.

کلۍ يې يوه د بلې پسې و آزمويې.

په پای کې کلپ خلاص شو.

لويه غوټه يې خلاصه کړه.

په غوټې کې د هغې نوې جامې وې.

بيا يې بله غوټه خلاصه کړه.

په غوټې کې څه ګاڼه وه.

تر ګاڼې لاندې بله کوشنۍ غوټه وه.

هغه يې راوچته او خلاصه کړه.

په غوټې کې څه کاغذې او اوسپنيزې (فلزي) پيسې وې.

غوټه يې واخيسته او بکس يې خلاص پرېښود.

بيا بلې کوټې ته لاړه، چېرې يې چې مېره او ماشومان وو.

کوټې ته د ننه او دروازه يې وتړه.

غوټه يې د خپل مېره مخې ته کښېښوده.

مېره يې غوټه واخيسته.

بيا يې خپلې کوشنۍ لور ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

اله (هله) بچی، الکين را نږدې کړه.

هسې سترګې مې ښه کار نه کوي.

لور يې الکين ور نږدې کړ.

پلار يې د پيسو په شمېرلو پيل کړ.

ټولې پيسې ۵۶۳۴ افغانۍ وې.

بيا يې د زوی نه پوښتنه وکړه.

د تګ له پاره څو روپۍ په کار کېږي؟

هغه و ويل:

پوره، لس زره افغانۍ.

بيا پلار يې و ويل:

مونږ ستا د اړتيا وړ پيسې نه لرو.

هغه و ويل:

زه به لاړ شم او د ګاونډ د زوی سره به خبره شريکه کړم.

پلار يې و ويل:

سمه ده!

لاړ شه او هغوی ته و وايه چې مونږ يواځې د تګ نيمايي پيسې لرو.

هغه و منه، الکين يې له ځانه سره واخيست او د کوره و وت.

د کوټنۍ نور غړي په تيارۍ کې کښېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

................................

سوړمې د درو شپو وه.

رڼا يې نه درلوده.

په دې وخت کې د جواد پلار و ويل:

خدای وکړي چې د هغه ګاونډ زوي و وايي:

ته د تګ پوره پيسې نه لرې.

ښه به وي چې نورې پيسې هم غونډې کړي، بيا به بل کال زمونږ سره لاړ شې.

ټولو و ويل:

خدای وکړي چې همداسې شي.

څه وخت تېر شو.

هغه بېرته کورته، راستون شو.

کوټې ته ننوت.

سلام يې ورکړ.

پلار يې د هغه سلام ته وعليکم و ويل.

بيا هغه الکين پر خپل ځای کښېښود.

توشکې ته يې ځان نږدې او پرې کښېناست.

پلار يې و پوښتل:

د ګاونډ زوی دې وليد؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ويل:

و مې لید.

بیا یې و پوښتل:

څه يې ويل؟

جواد ځواب ورکړ.

هغه و ويل:

کومه ستونزه نه شته.

پنځه زره به له ځانه سره واخلې.

پنځه زره به ستا په خاطر زه ورکړم.

کوم وخت چې دې کار وکړ، لمړی به زما پیسې راکړې.

پلار يې زياته کړه.

تا ورته څه و ويل؟

جواد و ويل:

ما ورته و ويل:

سمه ده!

زه کومه ستونزه نه لرم.

بیا پلار یې خپلې ښځې ته و ويل:

بس!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

جواد دې له خيره سره لاړ شي.

د کلي الکان هم بد خلک نه دي.

نور توکل په خداي.

ما او تا به ورته دعاوې کوو.

بيا يې پوره پنځه زره افغاني جواد ته ورکړې.

جواد پيسې واخيستې او پر خپل جب کې يې د ننه کړې.

بيا پلار يې هغه پاتې پيسې ببرته په غوټه کې، غوټه او خپلې ښځې ته يې ورکړې.

هغې غوټه واخيسته او بلې کوټې ته لاړه.

غوټې يې په بکس کې ځاى پرځاى او بکس يې ببرته کلپ کړ.

وروسته ببرته، راغله.

د جواد پلار و ويل:

د جواد څو جوړه جامې او نور ضروري شيان ورته په يوې غوټې کې، وتړه.

هغې و ويل :

سمه ده!

بيا يې هغه ته غوټه جوړه او پر يوه کوشنۍ شا کځوړې کې يې ځاى پر ځاى کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

..................................

دوي وچې دوډۍ، څلور غوټې پیاز او لږه مالګه یې هم په کې کښېښوده.

کڅوړه یې د دروازې سره جوښته کېښوده.

بیا د جواد پلار و ویل:

ښه به وي چې اوس بیده او سهار وختي له خوبه پاڅېږو.

جواد به وختي حرکت کوي.

جواد و ویل:

انشا الله!

څه وخت تېر او ټول بیده شوو.

مورې الکین مړ کړ او خپله هم بیده شو.

سهار وختی شو.

ملایانو آذانونه، نه و کړي.

د غولي دروازه و ټکېده.

د جواد پلار له خوبه پاڅید او د غولي دروازې ته لاړ.

دروازې ته، نږدې شو او ویې پوښتل:

څوک یې؟

هغه و ویل:

مونږ د ګاونډیانو ځامن یوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

................................

جواد له خوبه پاخوه تر څو، راشي.

د جواد پلار و ویل:

سمه ده!

زه به هغه پاڅوم.

الکانو و ویل:

مونږ د دروازې تر شټ (شا) درېږو.

تاسو هغه ژر ویښ او راولېږئ.

هغه و ویل:

سمه ده!

دا دی ژر!

د جواد پلار کوټې ته د ننه شو.

جواد یې له خوبه راویښ کړ.

هغه ژر اودس وکړ او کڅوړه یې شا ته واچوه.

په دې وخت کې مور یې هم را پاڅېده.

له ځایه اوچته او د جواد سره تر دروازې لاړه.

د اوبو بدنې (کوزه) یې واخیسته.

جوا د غولې دروازې نه و وت.

د الکانو سره یې روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

بيا د خپل پلار او مور سره خدای پاماني او د هغوی لاسونه يې مچ کړل.

هغوی ته يې و ويل:

ما ته په لمونځونو کې دعاوې وکړئ.

هغوی و ويل:

سمه ده!

بيا جواد د نورو الکانو سره روان شو.

مور يې هم د کوزې اوبه د هغوی پسې وشيندې.

مور او پلار يې د درواز تر څټ ولاړ وو، تر څو هغوی په موټر سايکلونو کې کښيناستل او له سيمې څخه پنا شوو.

هغوی بېرته کور ته د ننه او د غولي دروازه يې وتړه.

بيا بېرته کوټې ته، ستانه شوو.

څه وخت تېرشو.

ملايانو په آذانونو پيل کړ.

هغوی هم اودسونه وکړل.

پلار يې جومات ته لاړ تر څو لمونځ په جمعې ادا کړي.

د جواد مور لمونځ په کور کې ادا او بيا تناره کوټې ته لاړه.

الته يې اور بل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

چايجوش يې پرې کښېښود.

لږ ځنډ وروسته، چاى ويېشېده (جوش شو).

بيا يې وېشېدلې اوبه يې په بل چايجوش کې واچوې او هغه يې پر سکروټو کښېښود، تر څو ښه دم ونيسي.

لمر را وخوت.

د جواد پلار هم کورته راغى.

هغه کوټې ته ننوت.

مشره لور يې دسترخوان اوار کړ.

ډوډۍ يې د ټکرۍ نه واخيستې او پر دستر خوان يې کښېښودې.

پيالې يې هم دسترخوان ته، نږدې کړې.

بيا ښځې يې چاى کوټې (خونې) ته د ننه کړ.

لږ خوږه (بوره) يې په پيالو کې واچوه او چاى يې په پيالو کې و وېشه.

بيا ټولو په خوړو يې پيل کړ.

ورځ تېره او د کورنۍ غړي ټول خپه وو.

اوني تېره بيا مياشت پوره شوه.

هغوى په ډېرو ستونزو ګاونډ هېواد ته ورسېدل.

بيا يې خپلو کورونو ته، ليکونه واستول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

................................

د جواد رسېدو ليک (خط )هم راورسېد.

د کورنۍ ټول غړي يې خوشحاله شوو.

هغه د نورو الکانو سره په يوې کارخونې (فابريکې) کې په کار پيل کړ.

هغه الته خوشحاله وه.

مياشت تېره شوه.

هغه خپله تنخوا واخيسته.

لمړی يې خپل پور ادا کړ او پاتې پيسې يې د خپل خوراک او څښاک ته بېلې کړې.

بيا د نورو مياشتو تنخواه به يې څه کورنۍ ته لېږې او څه پيسې به يې ځانته زېرمه کوې چې خپل ځان ته پرې خرڅ او خوراک برابر کړي.

کال تېر شو.

هغه يوه غوږکی (موبايل) واخيست.

غوږکی (موبايل) يې خپل پلار ته ولېږه.

هغه به د خپل ملګرو په غوږکي کې پيسې اچوې او بيا به يې د خپلې مور، پلار او خويندو سره، خبرې کوې.

کال بل هم تېر شو.

هغه ځان ته، هم غوږکي واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

................................

څه وخت وروسته يې يوه ښکلې لاسي ساعت، هم واخيست.

درې کاله تېر شوو.

بيا يې پرېکړه وکړه چې د خپلې کورنۍ ليدو له پاره هېواد ته لاړ شي.

هغه ډېر ملګري موندلی وو.

خپلو ملګرو ته يې و ويل:

زه غواړم خپلې کورنۍ ليدو له پاره، هېواد ته لاړ شم.

يوه ملګري يې و ويل:

زه هم غواړم هېواد ته لاړ شم.

دواړه به يوه ځای لاړ شوو.

جواد و ويل:

سمه ده!

بيا يې وپوښتل:

څه وخت به لاړ شو؟

هغه و ويل:

د دې مياشتې تنخواه مې چې واخيسته، بيا به لاړ شوو.

جواد و ويل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

................................

مياشت تېره شوه.

هغوی دواړو خپلې تنخوا وې واخيستې.

د کورنۍ غړو له پاره يې هم څه ډالۍ واخيستې.

شپه يې هم د جواد په خونې کې، تېره کړه.

سهار وختي چې تياره هم وه له خوبه پاڅېدل او خپلې کڅوړې يې څټ (شا) ته واچوې.

د خونې نه د باندې شوو.

بيا جواد خپل د خونې يوه ملګرى د خوب نه راويښ کړ.

هغه ته يې و ويل:

مونږ خپل هېواد ته، ځوو.

دروازه درسره وتړه.

هغه و ويل:

په خير لاړ او بېرته راشئ.

په مخه مو ګلونه.

بيا دواړو د هغه سره خداى پاماني وکړه، د خونې نه دالان او بيا په زينو کې ښکته شوو.

سړک ته و رسېدل او التـه يې يوه تکسي موټر ونيو او د بس تم ځاى پورې لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېړه بايلل

..................................

بيا هغوی د يوه بس نه بل بس ته، وختل تر څو د هرات بس اډې پورې ورسېږي.

التـه بيا ورسته د هېواد ليکې (سرحد، بورډر) ته ورسېدل.

بيا په پښو د ليکې نه واوښتل ( تېر شوو) او د اسلام قلعه بندر ته د ننه شوو.

التـه يې غرمه تېره او بيا يې يوه موټر په کرايه تر کورنو پورې و نيو.

ماښام محال کلي ته ورسېدل.

دواوړه سره خدای پاماني وکړه او و يې ويل:

پنځه لس ورځې وروسته به د ولسوالۍ په بازار کې سره و وينو.

ملګري يې ومنه.

بيا هر يوه خپلې موخې په سې لاړل.

ماښام تياره، جواد خپل کلي ته ور ننږدې شو.

سپوږمۍ د څوارلسم، ښکارېده.

لږه رڼا وه.

هغه کولای شو خپله لاره و مومي.

په زړه کې يې ويل:

بيا دښتې ته راغلم.

دلته برېښنا هم نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

که سپوږمۍ نه وای، څه به مې کول؟

مجبوره وم چېر ته په هوټل کې مې شپه کړې وای، بيا به سبا کورته، تلم.

هې!

زما هېواده!

هيچا، ستا له پاره کار و نه کړ.

هرڅوک اوايي (هوايي) راغلل.

خپل جبونه يې ډک کړل، بيا يې خارج ملکونو کې پانګونې وکړې او د هېواده و تښتېدل.

هی خدايه!

ته خپل رحم، پر دې ملت وکړه.

هغه په سوچونو کې خپل کلي ته ورسېد.

څوک نه وو.

هر څوک وختي، خپلو کورونو ته، تللي وو.

جواد هم خپل کور دروازې ته ورسېد.

دروازه يې ټپلوهه.

هغه تړلې وه.

بيا يې دروازه وټکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................

مور يې دروازې راغله او ويې ويل:

څوک يې؟

جواد و ويل:

زه يم.

جواد.

مور يې چيغه کړه.

جواد دی، جواد.

موريې دروازه خلاصه کړه او جواد يې په غېږ کې ونيو.

د جواد پلار او خويندو هم دروازې ته منډې کړې.

ټولو د هغه سره روغبړ وکړ.

بيا پلار يې و ويل:

کوټې ته لاړ شي.

بيا هغوی کوټې خوا ته لاړل.

پلار يې د غولي دروازه وتړه او کوټې خوا ته، روان شو.

ټول کوټې ته، ننوتل.

کيسې پيل شوې.

بيا جواد خپله لويه کڅوړه راواخيسته او د ډاليو پر وېشلو يې پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېړه بايلل

..............................

ډالۍ يې و وېشې.

بيا يې څه د کور ضروري لوښې هم خپلې مور ته وړاندې کړل.

مور يې دهغې نه مننه وکړه.

د شپې تر نا وخته الته، خبرو دوام درلود.

جواد د خپلې مسافرۍ او د کورنۍ نورو غړو د خپل ژوند او ستونزو په هکله خبرې وکړې.

شپه ناوخته شوه.

بيا د جواد پلار غږ کړ.

شپه به جوړه او نورې کيسې به سبا ته پرېږدو.

تاسو غواړئ چې په يوې شپې کې کيسې خلاصې کړئ؟

ټو لو و ويل:

**نه!**

بيا توشکې د خوب له پاره اوارې شوې.

شپه جوړه او ټول بيده شوو.

سهار وختي ټول د لمانځه د پاره پاڅېدل.

پلار يې د نورو ورځو په شان جومات ته، لاړ.

نورو په کور کې لمونځونه ادا کړل.

بيا پلار يې ژر بېرته راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

................................

د سهار چای تيار شو.

دسترخوان اوار او پيالې پرې کېښودل شوې.

چای واچول شو.

ټولو پر چای څښلو پيل وکړ.

بيا د مسافرت خوړې او ترخې کيسې پيل شوې.

جواد به کيسې کوې او نورو به ورته غوږ نيوه.

ورو، ورو وخت تېرېده.

د هغه پلار، له کوره و وت او کروندو ته، روان شو.

مور او خويندې يې د کور په کارونو اخته شوو.

جواد هم له کوره و وت او د کلي مخ خوا ته روان شوو.

اوا توده او د اوړي ورځې وې.

د هغوی د کلي مخې ته دېره (باغچه) وه.

الته د توتانو او نور مېوو ونې وې.

هغه الته لاړ او پر يوې غټې ډبرې کښېناست.

د کلي ماشومانو کوم چې د توپ ډنډې په لوبو بوخت وو، ورته پام شو.

يوه يې و ويل:

دا الک جواد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه ګاونډ هېـواد کـې زېـږه بایلل

................................

ټولو لوبه پرېښوده او د هغه خوا ته يې منډې کړې.

هغه هم له خپل ځایه پاڅېد او د کلي الکانو سره يې روغبړ و کړ.

بیا چا به ترې د یوه شي او بل به د بل شي پوښتنې کوې او هغه به هم ماشومانو ته، ځوابونه ویل.

څو ساعته يې الته تېر کړل.

د کلي ځوانان او سپين ږيري له کروندو را و رسېدل.

هر کس (څوک) به د جواد سره روغبړ او د هغه نه به يې د سفر په هکله پوښتنې کوې او هغه به په ورين تندي د هغو پوښتنو ته، ځوابونه ویل.

غرمه شوه.

د هغه پلار هم له کروندو راغی.

جواد له ځایه پاڅېد او هغه ته يې سلام ورکړ.

پلار يې د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا پلار يې مخکې، جواد ورپسې کور خوا ته روان شوو.

کورته د ننه بیا ښځې ته نږدې شوو.

جواد و ویل:

د غرمې ډوډی به د ښځې لاندې وخورو.

پلار يې و ویل:

سمه ده !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

................................

بيا هغه خپلې لور ته غږ کړ.

هغه راغله او ويې پوښتل:

څه وايې پلاره؟

پلار يې و ويل:

تغر راوړه او د څپرې لاندې يې اوار کړه.

جواد غواړي تر څپرې لاندې ډوډۍ وخوري.

لور يې و ويل:

سمه ده!

اوس دستي به يې راوړم.

هغې تغر راوړ او د بلې خور په مرسته يې اوار کړ.

بيا يې څو توشکې او بالښتونه هم راوړل.

توشکې يې اوارې او بالښتونه يې پرې کېښېښودل.

هغوي پر توشکو کېښناستل.

د غرمې ډوډۍ تياره وه.

مور يې غږ کړ.

انجنو!

ډوډۍ تياره ده.

يوه کس د لاس اوبه او بل دسترخوان راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

..................................

زه به کتغ په لوښو کې واچوم او راوړم.

انجنو ومنه.

یوې د لاس اوبه او بلې دسترخوان راوړ.

لاسونه پرېمنځل شوو.

د جواد مشرې خور هم دستر خوان اوار او تودې ډوډۍ یې پرې کېښودې.

مورېې هم ښکلې ښوروا پخه کړې او د ښوروا لوښي یې پر دسترخوان کښېښودل.

بیا د بسم الله په ویلو سره ډوډۍ خوراک، پیل شوو.

د جواد مور و ویل:

رنده مې کړې.

سلاته (سلاطه) مې جوړه کړې او د تناره کوټې کې مې له یاده وتې وه.

اله (هله) لورې په منډه یې راوړه.

مشره لور یې پاڅېده او په منډه یې د سلاتې غابونه راوړل.

ټولو په خوند، ډوډۍ وخوړه.

بیا مورېې شین چای دم او دسترخوان ته یې راوړ.

چای هم په خوند سره و څښل شو.

څه وخت تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

..................................

پلار يې پاڅېد او جواد ته يې و ويل:

زه کروندو ته ځم، ته هم زما سره ځې؟

ساعت به دې تېر شي.

التـه ډېر الکان هم کار کوي.

هغه و ويل:

سمه ده پلاره!

بيا پلار يې پاڅېد او مخکې شو.

جواد هم ورپسې شو.

په لاره کې به د جواد سره زلميانو او همزولو روغبړ کاوه.

هر کس به هغه ته، ښه راغلاست ويل.

جواد به هم د هغوي نه، مننه کوه.

مازيګر او بيا ماښام شو.

هغوی د کروندو نه د کور په خوا حرکت وکړ.

زوی او پلار په لاره تلل او کيسې يې هم کوې.

څنډ وروسته کور ته، ورسېدل.

کور ته د ننه بيا کوټې ته لاړل.

د شپې ډوډي تياره وه.

ډوډی وخوړل شوه بيا د کيسو ويل، پيل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

..................................

دا شپه د لمړی شپې په شان نه وه.

لنډه وه او هغوي ژر بيده شوو.

بيا سهار وختي پاڅېدل.

په همدې توګه پنځلس ورځې او شپې تېرې شوې.

بېرته د تګ وخت ورسېد.

جواد د خپل ملګري سره وليدل او تګ وخت يې وټاکه.

بيا په ټاکلي ورځ، د کوره و وتل.

لمړی هرات ولايت او بيا اسلام قلعه بندر ته يې ځانونه ورسول.

هغوي ويزې درلودي او قاچاقي تګ ته يې اړتيا نه وه.

دا ځل هغوی ډېر په آسانۍ سره، لاړل.

ورځ وروسته خپل د کار سيمې ته ورسېدل او پر سبا يې پر خپلو کارونو پيل کړ.

هغه اوس زلمی شوی و.

د کار د ختميدو نه يې بنکلې جامې اغوستې.

د کار ځای نه تر خوني پورې په پښو به ته، تر څو څه سپورت شي او د پښو شخې يې هم و وځي.

دا تګ يې يوه اونۍ دوام وکړ.

بله ورځ يې په لاره کې يو ښکلې انجلۍ وليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

................................

جواد هغې ته په زیر سره و کاته او څه یې ونه ویل.

هغه د ښوونځي په یولسم ټولګي کې وه.

هغه به هره ورځ په دې لاره تېرېده او جواد به د هغې مخې ته ورته.

اونۍ تېره شوه.

انجلۍ د جواد خوښه شوه.

یوه ورځ چې هغه یې مخې ته راغله، هغې ته یې سلام واچوه.

هغې هم د جواد سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا د سلام ویلو سره لږ، لږ لغتونه او جملې ډېرې شوې.

بله ورځ یې هغې ته و ویل:

کولای شم لږ له تا سره خبرې وکړم؟

انجلۍ و ویل:

سمه ده!

خو څو دکیکې.

زه باید ژر کور ته لاړه شم.

که نه زما مور او پلار به پر ما غصه شي.

جواد و ویل:

سمه ده!

جواد وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

ته هم زما په شان چېرته کار کوې؟

هغې و ويل:

نه!

زه په ښوونځي کې سبق وايم.

غواړم فاکولته ولولم او ډاکټره شم.

غواړم چې د ناروغانو درملنه وکړم.

بيا هغې د الک نه و پوښتل؟

څه کار کوې؟

هغه و ويل:

زه په يوې فابريکې کې ولدنګ کار(جوشکاريم)

بيا يې و پوښتل:

ښوونځی دې تر څويم پورې لوستی دی؟

هغه و ويل:

زه بې زده کړې يم.

ما ښوونځی نه دی لوستی.

زمونږ په هېواد کې ښوونځي خورا لږ او زما د اوسېدو سيمې نه ډېر لرې دي.

زه و نه توانېدم چې ښوونځی ولولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

................................

هغې و پوښتل:

ته د کابل يې؟

هغه و ويل:

نه!

بيا هغې و پوښتل:

لهجه دې د هرات خلکو ته پاتې کېږي، لکه چې د هرات يې؟

هغه و ويل:

نه!

زه د غور ولايت يم.

په غور ولايت کې هم د يوې وروسته پاتې ولسوالۍ نه يم، چېرته چې برېښنا هم نه شته.

بيا هغه په خندا شوه او ويې ويل:

تاسو ژوند کوئ او که خپل وخت تېروئ؟

هغه و ويل:

زمونږ ژوند همداسې دی.

ځکه مې وغوښتل چې ستاسو هېواد ته راشم، کار وکړم، پيسې وګټم ، خپل هېواد کې واده او ژوند وکړم.

هغه موسکې شوه، د جواد نه يې خدای پاماني واخيسته او خپلې مخې خوا ته، روانه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

..................................

جواد پر خپل ځای هک پک ودرېد او انجلۍ پسې يې کتل.

هغه هم په لارې تله او ښڅ (شا) ته يې کتل.

تر څو چې انجلۍ ښکارېده، جواد ورپسې کتل.

هغه د ليد نه پناه شوه.

جواد ورو، ورو خپلې کوټې خوا ته روان شو.

هغه د انجلۍ په سوچ کې ډوب و.

داسې ښکارېده چې پر هغې مين شوی وي.

خونې ته ورسېد.

د شپې ډوډۍ يې وخوړه.

هغه د انجلۍ په سوچ کې وه او د شپې يې، خوب ونه کړ.

سهار د چای څښلو نه وروسته فابريکې ته روان شو.

ورځ يې الته تېره او مازيګر شو.

د رخصتي وخت راورسېد.

ټول کاريګر په وتو شوو.

هغه هم د فابريکې نه و وت.

خپلې اوسېدو خونې خوا روان شو.

سوچ يې کاوه چې هغه انجلۍ به بيا په مخ رانه شي.

ځکه هغې سوچ کاوه چې جواد هم په ښوونځي کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بایلل

..................................

هغه نه پوهېده چې جواد بې زده کړې او د افغانستان د یوې وروسته پاتې سیمې دی.

په لاره ته او منفي سوچونه به یې کول.

له ځانه سره به یې ویل:

هر څه خلاص شوو.

بیا به هغه و نه وینم.

په دې ورځ انجلې یې مخې ته را نه غله.

هغه ډېر خواشینی خوني ته ستون شو.

ملګرو یې وپوښتل:

دوې ورځې کیږي چې بې چرته یې.

مریض خو به نه یې؟

هغه و ویل:

نه !

مریض نه یم.

لږ څه بې چرته یم.

ملګرو یې و ویل.

مه بې چرته کیږه.

هسې د مسافرۍ ژوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

.................................

چرت وهل، کومه ګټه نه لري.

که چېرې کومه ستونزه لرې، مونږ به در سره مرسته وکړو.

هغه و ويل:

نه!

مننه کوم!

کور مو آباد.

شپه تېره شوه او سهار شو.

هغه بيا خپل کار لوري ته روان شوو.

د انجلۍ په سوچ کې ډوب وه.

ورځ يې په ستونزو سره تېره کړه.

بيا د رخصتۍ وخت ورسېد.

يوازې او د ټولو نه مخکې له فابريکې نه و وت.

د سړک غاړه يې ونيوه او د اوسېدو خونې خوا روان شو.

سر يې ټيټ اچولی و.

داسې ښکارېده چې له ځانه سره خبرې کوي.

په دې وخت کې انجلۍ يې مخې ته راغله.

هغه جواد ته مخامخ ودرېده او هغه ته يې سلام ورکړ.

هغه هم د انجلۍ سلام ته وعليکم و ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

...............................

د جواد زړه په ډبهارو شو.

بيا يې د هغې نه وپوښتل:

پرون چېرې وې؟

هغې ځواب ورکړ:

زه لږه ناروغه وم.

انجلۍ و پوښتل:

ته خپه شوې يې.

جواد و ويل:

ما سوچ کاوه چې بيا به له تا سره ليده و نه شي.

ما تا ته ټول رښتيا و ويل.

هغې و ويل:

هو!

زه پوه شوم چې ته ښه الک او ښه دې چې ما ته و ويل د خپل زړه او اخلاصه دې و ويل.

ستا رښتيا او سپينه خبره کول مې ډېر خوښ شو.

بيا څو دکيکی نوري خبرې يې وکړې.

جواد ډېرته خوشحاله شو لکه د ګلاب ګل په شان و غوړېد.

بيا انجلی و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................

اجازه ده چې کورته، لاړه شم؟

جواد و ويل:

هو!

ځه چې دربانډې ناوخته نه شي.

هغې ومنه.

بيا روانه شوه.

څه مزل چې به يې وکړ څټ ته به يې وکتل.

په دې وخت کې جواد به هم څټ ته کتل.

څه ځنډ وروسته جواد خپل اوسېدو خونې ته ورسېد.

ملګري يې هم خونې ته ورسېدل.

جواد خوشحاله ښکارېده.

ملګرو يې و پوښتل:

ځنګه نن خوشحاله ښکارې؟

هغه و ويل:

هېڅ!

همداسې.

ملګرې يې کلک شو او ويې ويل:

حتمآ کوم راز ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

.................................

ته بايد مونږ پرې پوی کړې.

هغه و ويل:

سمه ده!

زه به خپله کيسه تاسو ته بيان کړم.

ټول کښېناستل او هغه خپله کيسه ورته و ويله.

چا به خندل او چا به ويل:

ته هسې ټوکې کوې.

ته بې زده کړې يې.

هغه په ښوونځي کې سبق وايی.

ته د افغانستان او هغه د ايران ده.

ته اطرافی او هغه ښاري انجلۍ ده.

بل ملګري يې و ويل:

ته يې مونږ ته ښکاره کړه، چې زمونږ پرې يقيين راشي.

زمونږ عقل خو يې نه مني.

هغه و خندل او ويې ويل:

سمه ده!

سبا د فابريکې رخصتېدو نه وروسته د بس تم ځای کې انتظار وباسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زړه بايلل

..................................

زه به له هغې سره يوه ځای تېر شم، بيا به ستاسو يقين راشي.

ملګرو يې ومنه.

شپه تېره او سبا شو.

هغه او نور ملګري يې خپلو کارونو پسې لاړل.

مازيګر شو.

جواد له فابرېکې و وت.

هغه په لاره، سم شو.

د بس تم ځای کې ودرېد.

انجلۍ هم له لرې را روانه وه.

بس تم ځای ته ورسېده اوجواد ته يې سلام ورکړ.

جواد هم د هغې سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې وپوښتل:

دلته ولې ولاړ يې؟

جواد ورته د خپل شرط کيسه وکړه.

هغه په خندا شوه او ويې ويل:

سمه ده!

زه به هم د ستا خوا ته ودرېږم تر څو د هغوی يقين راشي.

جواد خوشحاله شو او د هغې نه يې مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................

څه وخت تېر شو.

د هغه انډيوالان هم بس تم ځای ته ورسېدل.

ګوري چې په رښتيا يوه ښکلې انجلۍ د جواد سره په خبرو اترو بوخته ده.

هغوی ور نږدې شوو.

بيا يې د جواد سره روغبړ وکاوه.

په دې وخت کې انجلۍ لږه بېرته درېدلې وه.

بيا هغوی انجلۍ ته هم سلام واچوه.

انجلې د هغوی سلام ته وعليکم و ويل.

بيا د هغه انډيوالونو جواد نه، خدای پاماني واخيسته او روان شوو.

جواد څو دکيکې نورې هم د انجلۍ سره خبرې وکړې.

بيا هغه هم د انجلۍ نه خدای پاماني  واخيسته او د اوسېدو خونې خوا روان شو.

ماښام چې ملګري (انډيوالان) يې راغلل، جواد ته يې و ويل:

بې شکه!

اوس دې منوو.

جواد به هره ورځ د انجلې سره کاته او خبرې به يې کوې.

کال تېر او جلۍ دولسم ټولګي ته لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال بل هم تېر شو.

هغه د دولسم ټولګي نه هم خلاصه (فارغه) شوه.

جواد هغې ته د واده وړانديز وکړ.

هغې ومنه او ويې ويل:

زه دوې شرطه لرم.

جواد و پوښتل:

څه شرطونه؟

هغې و ويل:

لمړى:

زما مور او پلار مخکې به نه وايې چې، بې زده کړې يې.

دوېيم:

د واده نه وروسته به ته دلته پاتې کېږې.

هغه و ويل:

لمړى شرط دې منم او د دوېيم شرط په هکله به له کورنۍ سره خبرې وکړم.

بيا به دېر ژر تا ته خبر درکړم.

هغې و ويل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل

..................................

څه موده تېره شوه.

جواد د واده په هکله له خپلې کورنۍ سره، مشوره وکړه.

په کورنۍ کې يې ټول راضي شوو.

د جواد مور دا خبره نه منه او ویل يې چې:

زه يوه زوی لرم.

هغه به هم له ما څخه د تل د پاره لاړ شي.

زه يې نه منم.

مور يې خورا خپه او ژړل.

جواد به ویل:

ته مه خپه کيږه!

زه به هغې ته و وایم چې زما سره افغانستان ته راشي او الته په کلي کې ژوند وکړي.

انجلۍ زړه نا زړه وه.

هغه افغانستان تګ ته، خوشحاله نه وه.

ځکه دا د هغې شرط و.

جواد سل زړه يوه ځای او د هغې خبره يې ومنه.

په زړه کې يې و ویل:

يوه ځل به واده وکړم بيا به هغه مجبور شی اوزما سره به لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت تېر شو.

د واده مراسم د سيمې د رسم او رواج سره تر سره شوو.

په واده کې يې د جواد کورنۍ غږو، ونه توانېدل چې ګډون وکړي.

هغه مجبوره و چې د انجلۍ په کور کې ژوند وکړي.

د ورځې به يې کار کاوه او ماښام به د انجلۍ کور ته، ته.

کال تېر شو.

خدای هغوی ته يوه زوی ورکړ.

د ژوند خوشحاله شېبې نورې هم خوشحاله شوې.

الک يوه کلن شو.

جواد مور په هېواد کې، کلکه ناروغه شوه.

جواد خپلې ښځې ته و ويل:

زما مور ناروغه ده.

غواړم چې هېواد ته لاړ شم.

الته د خپلې مور دوايي وکړم، کوم وخت چې ښه شوه بېرته به راشم.

او که ته هم زما سره لاړه شې، زه او کورنۍ به مې هم ډېر خوشحاله شي.

هغې و ويل:

زما يوه شرط هم دا و چې ستا کلي ته به، نه ځم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

..................................

که ته غوارې د خپلې مور دوايي له پاره لاړ شې، کولای شې الته لس ورځې پاتې شې.

او يا هم کولای شې هغه د درملني د پاره دلته راولې.

هغه و ويل:

سمه ده!

يوه ورځ وروسته يې د لس ورځو د پاره فابريکې نه هم رخصت واخيست.

بيا لمړی هرات او وروسته خپل کور ته لاړ.

د هغه په ليدو سره، د کورنۍ ټول غړي، خوشحاله شوو.

د کورنۍ غړو او نورو دوستانو به جواد ته د واده مبارکي ويل.

هغه د خپلې مور دوايي پيل کړه.

هغه يې هرات ښار ته ورسوه او په روغتون کې يې بستري کړه.

ښځې يې به هره ورځ جواد ته تيلفون کاوه او د بېرته راتګ د وخت په هکله به يې پوښتنې کوې.

لس ورځې پوره شوې.

مور يې چندان ښه نه شوه.

هغه په دوې لارو کې بند پاتې شو.

له يوې خوا د مور ناروغي او له بلې خوا د ښځې هره ورځ ټيلفون.

درې ورځې نورې هم تېرې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

...............................

خو!

د هغې د ښځې ټيلفون شمېره بنده شوه.

هغه پوره يوه مياشت تېره کړه.

مور يې لږ ښه شوه.

هغه يې بېرته کورته ورسوه.

بيا يې د ټولو سره خدای پاماني وکړه او ګاونډ هېواد ته لاړ.

د خپلې ښځې کور ته لاړ.

دروازه يې د باندې خوا نه تړلې وه.

سوچ يې وکړ چې چېرې به تللي وي او سبا به راشي.

هغه هم خپلو ملګرو خونې ته لاړ.

الته يې شپه وکړه.

سبا بيا الته لاړ.

کور تړلی و.

د ګاونډيانو نه يې پوښتنه وکړه.

هغوی و ويل:

پوره لس ورځې کيږی چې چېرې تللی دی.

مونږ يې احوال، نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

................................

بيا يې و غوښتل چې له ملګرو سره پاتې او کار ته لاړ شي تر څو هغوي و مومي.

د شپې بيا خپلو ملګرو خونې ته لاړ.

سهار وختي خپل کار ځاى ته لاړ.

د فابريکې نه هم منفک شوى و.

خورا چورتى شو.

دوې ورځې يې نورې هم تېرې کړې.

د ښځې او زوى يې کوم څرک و نه لګېد.

په درېيمه ورځ يې د مور د مرګ خبر راغى کوم چې پلار يې ورته په غوږکي (ټېلفون) و ويل.

هغه بېرته هېواد ته ستون شو.

خو!

نا وخته وه.

مور يې خاورو ته سپارل شوې وه.

هغه خورا غمجن شو.

له يوې خوا يې خپله مور له لاسه ورکړه او له بلې خوايي ښځه او زوى.

غم به پرې ورځ تر بلې درېږده.

لمرى په سګرټو څکونې بيا په چرسو راغى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

.................................

يوازې به ګرځېده.

د پلار غمونه يې خورا ډېر شو.

يواځينى زوى.

هغه هم د چرس څكونې روږدى (معتاد) شو.

څه موده تېره شوه.

مشره خور يې واده شوه.

پلار يې د جواد درملنه پيل كړه.

ورو، ورو هغه مخ په ښه كېدو دى.

نه يې ښځه له هېره وځي او نه هم زوى.

پلار يې غواړي هغه ته بل واده وكړي.

مګر هغه يې نه مني.

پاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بايلل

................................

**د چاپ شويو کتابونو ليست**

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتيد انستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاريه / دنيای انجينری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقيقی با مقياس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاوند هېواد کې زېره بايلل

.................................

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچين (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................

۳۹. برف ها آب ميشود
۴۰. رسم و تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد سوم
۴۱. آرزو و اميد (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پيل
۴۵. حيوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مينه (مه ينه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مينه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګړي ماما مينه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ
۵۴. شپېنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مينې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندی کرنلاره د معمارانو او اينجينېرانو(انجينرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دينی مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سيدو او عيدو - د کوشنيوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
۶۰. د يوې مياشتې **ناوې** (پښتو ناول)
۶۱. دخاخکو هار (د يوه سړی لندې کيسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاوند هېواد کې زېږه بايلل

................................

٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانی)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سيلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينى مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غريبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [ديارلس کلنه فلسطينی انجلی تر نړېدلي ودانی (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دينى مولوي صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتي / چوب ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاريګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عينک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهرى زير خاک (نزديک معدن مس عينک)
٨٤. ساختمان های کانتينرى
٨٥. کانتينري ودانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

.................................

٨٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
٨٧. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
٨٨. خړه بیزو(پښتو کیسه)
٨٩. سور تنور(پښتو ناول)
٩٠. سپین کارغه (پښتو داستان)
٩١. لېونی لېوه (پښتو داستان)
٩٢. بندي مرغه (پښتو داستان)
٩٣. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
٩٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
٩٥. د یوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
٩٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانی معماري
٩٧. ناکامه مینه (پښتو ناول)
٩٨. سنګلاخ دره او معماري
٩٩. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
١٠٠. مادل اندازه ګیری اسلامی
١٠١. په ګاونډ هېواد کې زېږه بایلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل
...................................

**د کار لاندې کتابونو ليست**

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګاونډ هېواد کې زېره بايلل

.................................

**د وخت او امکان په صورت کې**

١. پخسه در افغانستان (به زبان انګليسی)
٢. تاريخ معماری افغانستان
٣. حويلی های آسمان خراش
٤. ارتباط ګذ شته، حال و آينده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شيطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Falling in love in a neighboring country

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: May - June / 2028

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library